





# Orientation to Ontario

## قانوني حقونه او خدمتونه

### د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور

منشور د نارینه او ښځینه دواړو  دغه حقونه او آزادۍ خوندي کوي:

- د خپلو عقیدو او باورونو د څرګندولو ازادي.
- له هرهغه چا سره د ملګرتیا کولو آزادي چې تاسو یې غواړئ.
- د خپل مذهب د پیروي کولو ازادي.
- د کاناډا په هر ځای کې د ژوند کولو حق.
- د غیرقانوني نیول کېدو څخه د ساتنې حق، او قانون ته د لاسرسي حق.
- د نژاد، ملي یا توکمیز اصل، رنګ، مذهب، جنسیت، عمر، یا ذهني یا فزیکي معلولیت پر بنسټ له تبعیض پرته د قانون څخه د مساوي خوندیتوب او مساوي ګټو حق.
- د فدرالي حکومت څخه په انګلیسي یا فرانسوي ژبو د خدمتونو ترلاسه کولو حق.

د عدلیې په څانګه کې د منشور په اړه معلومات ترلاسه کړئ: justice.gc.ca یا findlink.at/constiacts

### د اونټاریو د بشري حقونو کوډ

د د دې قانون له مخې د کار، کور او خدمتونو په برخو کې له یو شخص سره د هغه د عمر، نژاد،  توکم، اصلي ځای، مذهب، معیوبیت، مدني حالت (د همجنس پرستۍ د حالت په شمول)، هویت، جنسیت او جنسي تمایل پر بنسټ تبعیض کول او هغه ځورول غیرقانوني دي.

که دا احساسوئ چې تاسو سره د یادو خوندي دلیلونو پر بنسټ تبعیض شوی، تاسو کولی شئ د بشري حقونو محکمې ته ادعا وکړئ. د بشري حقونو د حقوقي ملاتړ له مرکز څخه د قانوني مرستې ترلاسه کولو لپاره hrlsc.on.ca ته مراجعه وکړئ.

په اونټاریو کې د بشري حقونو په اړه نور معلومات د اونټاریو د بشري حقونو له کمیسیون څخه تر لاسه کړئ: ohrc.on.ca

### د ځوانانو حقونه

په داسې حال کې چې یو ځوان په 18 کلنۍ کې بالغ ګڼل کېږي، د عمر پر بنسټ نور قوانین هم شته. په اونټاریو کې د تنباکو محصولاتو د استعمال یا پېرودلو لپاره تاسو باید لږترلږه 19 کلن وئ. د جنسي فعالیت لپاره د رضایت عمر 16 کاله دی، له ځینو استثناوو سره.

د رضایت د عمر په اړه نور معلومات په Justice.gc.ca یا findlink.at/ageconsent کې وګورئ.

### قانوني خدمتونه

د اونټاریو حقوقي سیستم او حقوقي خدمتونو ته د لاسرسي د څرنګوالي په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ:


په اونټاریو کې د وکیلانو او حقوقپوهانو  د لاربنود لړلیک لپاره په lsuc.on.ca یا findlink.at/tlsu لینکونو د کاناډا حقوقي انجمن وګورئ.

### Legal Aid Ontario

د اونټاریو د حقوقي مرستو دفتر (Legal Aid Ontario)  د هغو خلکو لپاره حقوقي خدمتونو وړاندې کوي چې لږ عاید لري. له دوی سره د اړیکې نیولو لپاره په 8258-668-800-1  شمېره زنګ ووهئ یا legalaid.on.ca وګورئ.

- Settlement.org  د کاناډا د قانوني سیستم او حقوقي خدمتونو په اړه معلومات وړاندې کوي: settlement.org یا findlink.at/Legal-Serv.
- د اونټاریو د حقوقي زده‌کړو ټولنه معلوماتي پاڼې خپروي ترڅو له خلکو سره د دوی د قانوني حقونو او مکلفیتونو په اړه په پوهاوي کې مرسته وکړي.  د نورو معلوماتو لپاره

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o





Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

cleo.on.ca وګورئ.

- د حقوقي معلوماتو لهپاره (چې له 170 په ډېرو ژبو شته)، 1-866-252-0104 ته زنګ ووهئ یا د اونټاریو عدلیې اداري پاڼې وګورئ: attorneygeneral.jus.gov.on.ca یا findlink.at/on-justice

که تاسو داسې احساسوئ چې له تاسو سره د اونټاریو حکومت له خوا غیر عادلانه چلند شوی، تاسو کولی شئ د پیښې په اړه شکایتونو ته د رسېدنې مامور ته راپور ورکړئ: ombudsman.on.ca

## مهم یادښت

په اونټاریو کې دوه مهم قوانین ستاسو قانوني حقونه او ازادۍ ساتي:

- د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور.
- د اونټاریو د بشري حقونو کوډ.





